# A dialectical analysis of Abdul Rahim Khan Mondokhail’s style

# د عبدالرحیم خان مندوخېل د نثر د اسلوب یوهٔ جدلیاتي تجزیه

**Shoukat Tareen**[1]


## ABSTRACT

Abdul Rahim Khan Mandokhel has been an important political and literary figure of his time. Has written a number of books and articles on the subject of history and literature. The following article gives a brief overview of his style and tries to prove with various references that he is a great writer and historian.


**Key words:** dialectical analysis, history, literary style-

د پخواني یونان په جدلیاتو کښې په نولسمه پېړۍ کښې هغه وخت یو ستر بدلون رامخته شو کله، چې نامتو فلسفي هیګل د تصوراتي یا خیالي جدلیاتي نظریه(**Pialectic idealism**) وړاندې کړه، چې د دې نظرئې پر اساس په کائنات کښې د ارتقا, عمل د انسان د ذهني ارتقا, سره سم کېږي او ورسره د تضاداتو او مفاهمت عمل پر یوه وخت روان وي، ځکه نو په یوه تصور باندې د ځان پوهولو دپاره درې متضاد یا معکوس تصور باندې هم ځان پوهول اړین وي. وروسته بیا هم دغه فکر د نړۍ یو بل مفکر مارکس د خپل جدلیاتي مادیت نظام د هیګل پر همدغه وړاندې کړل شوې نظام پر اساس مخ په وړاندې بوتلی.

د محترم عبدالرحیم خان مندوخېل باقاعده ادبي او عملي ژوند او د لیک پېل د کوټې د پښتو مجلې د کال د ۱۹۵۳-ع. دسمبر ګڼې څخه کېږي، چې د جدید مهذب انسان په نامهٔ یوهٔ افسانه ئې ولیکله، خو دلته دا یاد ساتل پکار ده چې په هم دې وخت کښې نړۍ تر یو ډېر ستر سیاسي، اخلاقي او فکري بحران څخه تازه تازه راتېره شوې وه او اثرات ئې د ورایه محسوسېدل. د دوهمې نړیوالې جګړې د بربادیانو او تباه کاریانو اثرات د انسانانو پر ذهنونو ډېر ژور

---

1 Additional Director Audit & Account Department of Secondary Education Govt Balochistan

اثرات اچولي وو، د سپین جمهوري او ټاکلي حکومت د جنرل فرانکو او د هغه د حواریانو د جرمني د نازي او د اټلي فاشسټ قوتونو په کومک له منځه وړل شوی ؤ، او هم دغه حالاتو د یورپ او ایشیا، آزادي او جمهوریت خوښونکي قوتونه هم تر خپل اثراتو لاندې راوستلي وو، چې د نتیجې په توګه ئې د نړۍ ټول ترقي خوښونکي قوتونو ته د یووالي موقع په لاس ورکړه، چې داسې د فرد د آزادۍ او جمهوري حقوقو ببرغ هم لوړ وساتي، په هم دې پس منظر کښې د ډېر تاند ځوان عبدالرحیم خان نوی راټوکېدلی ذهن زیات اغېزمن کړی.

په پورته ذکر شوې افسانې کښې هم دا ټول اثرات په جدلیاتي بڼه د ورایه ښکاره کېږي. کله چې دیو باچا درې زامن عزیز، اسلم او رشید د پلار پر باچاهي باندې قبضه کولو کښې په خپلو کښې سره لاس او ګرېوان وي، نو لیکونکي د افسانې پر هم دې ځای خپل اصل پېغام داسې تر لوستونکو رسوي.

"اوس زۀ نۀ یم خبر چې شهباز چرې ولاړی شاید د باچا دپاره د نورو قصو په تلاش کښې تللی وي او د شهباز د نکل شهزادګان څۀ شو او د دې څۀ فیصله وکړه، شاید تقسیم ئې کړی وي یاد باچا د انساني په خاطر د نقدي په صورت کښې انعام ورکړی وي او لالکه څنګه چې د زمانې دستور دی(چې د باچاهي په خاطر ګران ورونه او پلار او زوئ جنګ سره وکړي) دوئ هم جنګ کړی وي او د خپلې باچاهي د حصول دپاره ئې د هزارها بې ګناهانو وینې بېولي وي، خو د دې یو څو صدۍ پس د جرمني یو یهودي کارل مارکس دا فېصله وکړه.

سلطنت نۀ د عزیز دی نۀ د اسلم او نۀ د رشید دی، بلکې د یو آزاد ملک هر فرد پخپله باچا دی او په سلطنت کښې د هر فرد برابره حصه ده، په دې پس منظر کښې د شهباز د یو معمولي سړي رتبه د باچا د رتبه برابره ده"(1)..

داسې که وکتل شي په دې افسانه کښې په ډېره کم عمري د ښاغلي عبدالرحیم خان مندوخېل فکر او قلم څومره د لوړې درجې لیکل کړي دي، ګویا تر شل کلنۍ لا د مخه د دۀ نثري اسلوب د تاریخ، فلسفې، اروا پوهنې رنګ درلود او ورسره د فرد د آزادۍ او د هغه د صلاحیتونو پر بنیاد د پر مختګ ژور فکر د ځان سره وړي. محترم عبدالرحیم خان مندوخېل په خپل فلسفیانه، نفسیاتي او تاریخي لیکونو کښې چې کوم اسلوب خپل کړی دی، هغه نۀ د چا تقلید دی او نۀ څوک د دۀ تقلید کولای شي.

عبدالرحیم خان مندوخېل په خپلو نثري آثارو کښې که یوه خواته د افغانیت، قامولۍ، بشر دوستۍ، درس ورکوي، نو ورسره د ظلم، جبر او استحصالي قوتونو غندنه هم کوي او د یو انسان پر بل انسان د ظلم زور د مخنیوي لارې چارې هم په ګوته کوي، چې داسې یوې خواته بیان کړل شوې افکار یا نظریاتو باندې د خپلو لوستونکو پوهولو دپاره د ضد نظرئې، خیال او فکر هم ښائي لکه څنګه چې ادب د انسان د تخیل او جذبې زېږندوی وي، څکه نو ورسره اسلوب او قدرونو په درشل ورسره ځان بدلوي.

په ۱۹۵۴ء. کښې په کراچي کښې د سمندر پر غاړه د ستر حمزه بابا په ملګرتیا کښې په طرحي مشاعره کښې د محترم عبدالرحیم خان مندوخېل د نثر دا وړه ټوټه د پورته ذکر زما د خبرو د اثبات دپاره کافي ګڼم. دی کاږي.

"د کراچي د سمندر په غاړه هر هغه څۀ دي کوم چې له کال ۴۰-۱۹۳۹-ع. نه تر دې دمه تاریخ بیان کړي دي. سمندر، شنه پیاله پکښې شراب، د مازیګر د لمر سرخي، بس د سرمایه دارانه نظام یو حقیقي عکس ؤ...... دا خو شفق نۀ ؤ..... او نۀ سمندر ؤ. د سرمایه دار مشین زړۀ او د مزدور وینې او اوښکو د شرابو شنه پیاله ده او موږ ورته خوشحاله یو.... ولې به نۀ یو...... دا خو د ازل نه تر ابده یوه لړۍ ده....... د مزدور وینې...... د سرمایه دار زړۀ........ د شرابو شنه پیاله..... د کراچي د سمندر په غاړه دغه لیده کېدی شي.... نور څه.....؟"(2).

د پښتو ژبې وتلی نقاد او ادیب ښاغلی ایاز داؤدزی د پورته وړاندې کړل شوې نثري ټوټې په حقله وائي:

"د دې نور څۀ نه وړاندې خدای(ج) خبر چې څۀ لیکلي وو، خو ما سره صرف همدغه هومره ټکړه محفوظه ده، نن چې دې لیک ته ګورم نو وایم چې ښاغلي عبدالرحیم مندوخېل که په نوخېزه ځوانۍ کښې ترقي پسند خیالات لرل خو داسې راته هم ښکاري لکه چې دا نثري ټکړه نثر نۀ؛ د نثري نظم یوه برخه وي او که دا ومنل شي، نو دا به په دې لړ کښې یو ابتدائي غېر شعوري کوشش وي دا د حمزه صاحب ساحرانه شخصیت ؤ، چې د مندوخېل په نثر کښې هم د نظم خوبي څرګنده ښکاري"(3).

د جعفر خان اڅکزي د کتاب وندره، چې غالباً په کال ۱۹۵۷-ع. کښې چاپ شوی دی او دا وخت عبدالرحیم مندوخېل په ګورنمنټ کالج چې اوسنی سائنس

کالج دی د بي اې لوستونکی ؤ، په سریزه هم دغه خپل پوخ او علمي اسلوب خپل کړی دی، د هیګل، کارل مارکس ترقي او جمهوریت خوښونکی فکر ئې هم دلته ډېر ژور دی. د **Antithesis,thesis** او **Synthesis** پر اساس خپله فېصله کوي.

"نن شلمه صدی، تر ډېره حده و لیکوالو ته په مخ کښې ګړنګونه او کږې لارې راولي. د نن واکوالان د لیکوال له قلمه هغه شی لیکل غواړي، کوم چې د دوی دپاره ښه وي، بل خوا د لیکوال خپله سیاسي رائې دا زور لګوي، چې پر قلم ئې واک وموندي. دلته دی حیران پاتې شي، چې ادب مخ کښې کړي او که وخت او خپلې سیاسي رائې ته وګوري او یوائې د پرد پاڅندل(پروپېګنډه) کار لګیا کړي. دغه هغه ځای دی، چې لیکوالو هم ماته خوړلې ده. (که څۀ هم د خپل شاوخوا څۀ ناخبره هوسیدل هم د ادب تل مقصد نه دی) دغه رنګه د وندر لیکوال ته هم ننني ګړنګونه او د اغزو ډکې لارې مخ کښې شوې دي. لکه چې نورو ته کېږي، خو داسې ښکاري چې دی تر دې ګړنګو وتی دی، ده چې هر څۀ لیکلي دي او پر دې نامتو کسانو چیڅې هره رائې ورکړې ده، هغه له هر رنګ اثره لېري ده او د ده خپله ده. هر څۀ چې ئې لیکلي دي. نو ئې هغه لیکلي دي کوم چې ده لیدلي دي، د بل چا په سترګه ئې نه دي ورته کتلي. څۀ چې دی پوهیتو لیکلي دي یا ئې وئیلي دي هغه ده را اخستي دي او موږ ته ئې ایښي دي. د دوی په خوله موږ ته رغېږي"**(4)**.

عبدالرحیم خان مندوخېل په نثري اسلوب کښې د لوړي پائې تنقیدي شعور هم درلود، یعني هغه په ډېره نرمه او ښائسته لهجه کښې داسې تنقید کاوۀ چې سمونه به هم وشوه او د چا خوا به هم بده نۀ شوه. د همدې کتاب په سریزه کښې په داسې انداز تنقید کوي.

"اوس پر داسې ځای راځم چې هغه د ښۀ کتلو وړ دی. نن د پښتو د لیکدود په باره کښې ډېري څېړني شروع شوې دي او د پښتو خواخوږی دې ځای ته رارسېدلی دي، چې دا وائي، چې پکار دا دی، چې پښتو صفا کړو او سمه او خپله پښتو په لیک کښې راولو او د دې پښتنو دغه رائې سمه هم ښکاري، نو موږ ته په کار دا دی، چې کومه پښتو لیکو نو مو زیار دا وي، چې د نورو ژبو توري ډېر نه کړو را ګډ او پښتو په رښتیا پښتو کړو، نه چې ماته ګوډه پښتو، خو دلته په خورا مات زړه وایم چه د سمې پښتو لیکلو زیاره په"وندر" کښې نۀ دی دئ شوې. تازي او فارسي بې شانه پکښې ګډ شوې ده. داسې ښکاري چه ګني

ښاغلی لیکوال تر پښتو زیات تازي او فارسي ژبو ته نژدې دی. خو زما په خیال دغه یوائې زموږ د نني تعلیم او ښووني له کبله ده موږ په هغو ښوونځیو او پوهنځیو کښې په پوهنه پسې ګرځو چېرې، چې د نورو ژبو له ځوره خپله مورنۍ ژبه پرېږدو او زموږ حال دا شي، چې یوه ژبه سمه ده نه لیکلای شو او نۀ وئیلای. هغه د پښتو توري چې موږ درلودل هېر کړو او په هغو پسې ګرځو چې زده کول ئې ډېر ګران کار دی او که وسي، نو هم د کلو کلو خواري ده. نن موږ چې و ځان ته لوستي وایو، پښتو که په رښتیا ږغېږم نه ده زده او د غرو د پښتنو ډېره ښۀ زده ده او که د سلطان محمد خان پاني دا وینا: «چي پښتنو لیکوالو ته په کار دي چې ځۀ وخت د غرو له شپنو او ګډېنو سره تېر کړي» ولیکم نو ګرم به نه یم، نو ځرګنده ده چې پښتو له لویو لیکوالو سره نشته او اوس خو پښتو د دوی له کبله پر دې لاره روانه ده، چې یو ځۀ وخت پس، تازي پښتو، فار سي پښتو او انګرېزي پښتو وبلل شي"(5).

"پښتو او د نن پښتانۀ" یوۀ بله علمي لیکنه د کال ۱۹۵۷-ع. د ګورنمنټ کالج کوټې په بولان، نامي مجله کښې چاپ شوې ده، چې دا وخت دی د بي اې د څلورم کال لوستونکی دی، په دې ذکر لیک کښې د سوچه او پاکي پښتو لیکلو باندې زور ورکوي.

"له دغي علاوه موږ ته کار دا دی، چې خپل خط و کتابت په پښتو کوو، پښتو لیک زده کړو. د پښتو زبان له ادبه ځان خبر کړو. د حالي، غالب او داغ پر ځای موږ رحمان بابا(رح)، حمید بابا او خادم بابا وپېږنو، دا نۀ چې دا نور زبانونه بالکل پرېږدو یا له دوئ سره تعصب وکړو، بلکې اول ځان بیا جهان پر لاره ولاړ سو او موږ د ادیبانو دا فرض دی، چې دوئ ځان د پښتو زبان خادمان وګڼي او د خپل فن اظهار د مورنۍ ژبي په ځامو کښې بند کړي. له دې څخه به د دوئ خپله هم فائده وي او د قام به ئې هم فائده وي"(6).

د محترم عبدالرحیم خان مندوخېل د شخصیت او نثر په حقله محترم حمزه بابا دا تاثرات هغه وخت وړاندې کړي کله لا دی، یعني عبدالرحیم خان په پېښور کښې په لوست بوخت ؤ. حمزه بابا وائي:

"دا شازلمی هم ګریجویټ دی، نری لوړ، چې د ورایه ئې د مخ کاسې ته ګورې نو سترګې د ګوزڼ وهلې مریض په شان غړوي..... خو چې نژدې شې، نو دوه برابري

بیداري سترګي لري، دلته د مخکښی تعلیم دپاره راغلی دی، په پښتو نثر کښې د مستقبل شمع ښکاري، ډېر خود دار متوکل او سوچه پښتون مسلمان دی، د کوټې د سیمي اوسېدونکی دی، نثر ئې ډېر ښۀ او موړ داد هم ورکړو"(7).

د عبدالرحیم خان مندوخېل د جمهوریت او د جمهوریت د بېلا بېلو اړخونو تاریخ او ارزښتونو باندې مشتمل کتاب "ټولواکي" په کال ۱۹۵۹-ع. کښې مخ ته راغلی ؤ. د دې کتاب په لومړنی خبرو کښې دی د قام پرمختګ د ژبي د پرمختګ سره تړلی ګڼي او د مثال په توګه عربي ژبه او عرب قام وړاندې کوي داسې بیا د یورپ د خواري کښانو او د هغو د پرمختګ رازونه څېړي. په ډېره مختصره پېرایه دی په ټولواکي، د ریاست او د هغه د بېلا بېلو نظریاتو څېړنه کوي او ورسره ئې د ټولواکی نظریات تر بحث لاندې راولي او ورسره د جدلیاتي نظریاتو او افکارو په پس منظر کښې ناټولواکه ریاستونه او د هغو د اولسونو حالات راپه ګوته کوي"(8).

داسې د یو فکر یا نظرئې په را پېژنده کوي د هغه ضد فکر او نظریه هم وړاندې کوي او بحث مخ ته بیائي او ځان او لوستونکي یوې نتیجې ته رسوي.

د پښتو ژبي نامتو لیکونکی عبدالکریم بریالی "ټولواکي" په نصاب کښې د شاملولو وړ کتاب بولي، لکه څنګه چې په جدلیاتو کښې و بحث و مباحثې ته ډېر ارزښت ورکول کېږي په پخواني یونان کښې د سقراط او د هغه شاګردانو هم دغه طریقه خپله کړې ده، دوئ د یوې ستونزي د حل دپاره جدلیاتي انداز فکر خپلاوی، یعني لومړی پر یوه ستونزه بېلا بېل سوالونه راپورته کول بیا به ئې د هغه جوابونه لټول، د سوال او جواب په دې عمل کښې به د ستونزي بېلا بېل اړخونه رابرسېره شول او داسې به د **Anti thesis, thesis** او **Syntheis** د عمل په نتیجه کښې دستونزي حل رابرسېره شو.

محترم عبدالرحیم خان مندوخېل نۀ یوازې په خپلو تاریخي، علمي، نفسیاتي او فلسفیانه لیکونو کښې همدغه اسلوب خپل کړی دی، بلکې په عام ژوند کښې هم د دلیل پر بنسټ د بحث و مباحثې قائل ؤ. هغه په خپلو تاریخي لیکونو کښې هر څۀ ډېر په کره اسنادو ثبوتونو خپل دلائل پر مخ وړاندې نۀ ئې یوازې حالات بیانوي، بلکې د خپلو بیان کړل شوو دلائلو پر بنسټ تجزیه کوي او نتیجه راباسي او ورسره د ماضي د حالاتو په رڼا کښې د سبا لارښونه هم کوي.

دی په خپله یوهٔ علمي مقاله"ادب د ژوند تصویر او تفسیر دی او سیاست د ژوند رهنما دی"، چې د نومبر د میاشتې په څلورمه ۲۰۰۰-ع. کال کښې په نشترحال پېښور کښې په نړیوال پښتو سېمینار کښې وړاندې کړې وه د اوږدې مباحثې تحلیل او بحث وروسته د نتیجې په توګه داسې وړاندیزونه کوي.

"په داسې سیاسي، اقتصادي، نظامي، علمي، ادبي، ژبني او روحي صورتحال کښې د ټول افغان ملت اهداف دا ګرځي:

۱- دافغانستان آزادي، ملي استقلال، ملي حاکمیت، د خاوري قامیت ساتل او ټینګول، د افغانستان ملي تشخص(هویت) ساتل په افغانستان کښې د بالغ ووټ نمائنده ملي واکدار ارګانونه جوړول.

۲- افغانستان د ګاونډي او نورو ملکونو نظامي او هر ډول مدافعت له افغانستان څخه قطعي بندول او د ټولو ملکونو مسلح قواوي که دولتي وي او که رضا کار له افغانستان څخه ایستل.

۳- په آزاد افغانستان کښې د پښتو ژبي ملي مقام ساتل او ټینګول او پښتو ژبه سرکاري دفتري، کاروباري او ذریعه تعلیم ګرځول له دې سره د افغانستان د ټولو قامونو خپل مقام او حیثیت ساتل.

۴- د محکوم افغان و پاکستان په ټولو چارو کښې له بلوڅ، سندهي، سرائیکي او پنجابي ملتونو سره د برابرۍ پر بنیاد په واک کښې شراکت د پښتونخوا په نوم د پښتون واحد ملي یونټ جوړولو پر لور د شمالي او جنوبي پښتونخوا ولایتونو ته خپل نوم پښتونخوا ورکول.

۵- منځنۍ پښتونخوا له نیم مستعمره حالت څخه ایستل او پر منتخب جمهوري بنیاد خپل آزاد حیثیت لرونکي واک جوړول او پښتونخوا نوم ورکول.

۶- په پاکستان کښې پښتو ملي ژبه ګرځول او په ټول لر افغان کښې پښتو سرکاري، دفتري، کاروباري او د تعلیم ذریعه ګرځول.

۷- په دا اوسني کړکېچنو حالاتو کښې پر دې اهدافو باندې متفق افغان اولس د هغه سیاسي پارټیاني د لر او بر افغان ټول بلخصوص د پښتو ژبي عالمان ادیبان، انجینئیران، ډاکټران او هر ډول مسلکي خلګ په وړومبي قدم کښې په یوه فکري اتحاد او اتفاق سره ټول افغان دې اهدافو ته بریالی رسولای شي او د دې دپاره.

۸- په آزاد افغانستان کښې د ملي روغي جوړي، ملي لوئي جرګې، ملي اردو يو عبوري ایتلافي حکومت بیا یو مکمل سیاسي، آئیني، اساسي قانون، نظام لاره اخستل کېدای شي"(9).

"انګرېزي استعمار او افغانستان" د ګرېټ ګيم یا ستري لوبي پر موضوع په پښتو ژبه کښې د لیکل شوو کتابونو په قطار کښې پر لومړی سر کښې راځي، بلکې ښائي چې په اردو ژبه کښې هم داسې کتاب ډېر لږ وي، چې په دومره جامعیت او کره اسنادو لیکل شوی وي. د کال ۱۷۹۳-ع. څخه بیا تر کال ۱۸۹۸-ع. پورې د سل کلن تاریخ چې د افغان په تاریخ کښې ډېر د ارزښت وړ دی محترم عبدالرحیم خان مندوخېل و افغان ملت ته خپل دښمن ورته په ګوته کوي او بین السطور هم هغه د افغان او افغانیت درس ورکوي او ورسره د جدلیاتي افکارو سره سم د بحث مباحثې د لارې خپله خبره پر مخ وړي. د دې کتاب اسلوب ډېر اسانه ساده لاکن په عین حال کښې د تاریخ او د افغان نفسیات هم نظر کښې نیسي او د ړوب د سیمې سوچه لهجه هم په کار راولې.

همداسې د کوټې دوهمې تاریخي جرګې د کنوننګ کمیټۍ تاریخي رپورټ او د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي پر ژوند د دهٔ لیکل شوې تاریخي مقاله ګویا د تاریخي اسنادو درجې لري، چې په راتلونکي کښې پر دې موضوع کارکونکی هم مؤرخ صرف نظر نه شي ځنې کولای. د کوټې په میاشتنۍ مجله "ګلستان" کښې د کال ۱۹۵۷-ع. د جون په شماره کښې د ړوب پر تاریخ او تر آثار قدیمه لنډه لاکن پر مغزه مقاله هم د خپل تاریخي ارزښت له کبله د پام وړ ده. په کتابي سلسله پښتونخوا کښې د پښتونخوا قومي تحریکونه او پښتو ادب(کال ۱۹۸۷-ع) په ډېره لنډه پېرایه کښې د تاریخ په اوږدو د افغان وطن جغرافیه، آثار قدیمه، د پښتو ژبې قدامت بیا د هغو د پښتنانهٔ د قامي تحریکونو سره تړاؤ وړاندې کوي او د مغل او د فارسي د کشمکش په نتیجه کښې د افغان ملت حالت او بیا وروسته تاریخي اثرات او ورسره د دښمن نشان دي کوي. د دې تر څنګه د سهېلي پښتونخوا د کلاسیکل شعرا څخه د جدیدي شاعري او ادب پورې ځان را رسوي او د مستقبل پیش بندي هم کوي.

محترم عبدالرحیم خان مندوخېل په خپل ټول ژوند د نیکۍ، حق و صداقت پرچار وکړی دغه پرچار دهٔ د سیاست، ادب د لارې وکړی، د دهٔ پر سیاست،

مبارزې، ادبي ژوند باندې اوس ډېري لیکني کېږي او داسې به په راتلونکو کلونو کښې به د پارلیمان مبارزې، تاریخ نویسي، ادب او داسې د دۀ د ژوندانه بېلا بېل اړخونه څېړل او دا به د پښتو سره سره د مظلومو طبقاتو او د انسانیت دپاره یوه ډېره درنه علمي پانګه وي.

## حوالې

(**1**) میاشتنۍ پښتو، ګڼه شپږمه، دسمبر **1953**ء، مخ**38**.

(**2**) درې میاشتنۍ جرس پښتو، کراچۍ، ګڼه **27**، اکتوبر- دسمبر **1998**ء، مخ**32**.

(**3**) ایضاً، مخ**33**.

(**4**) اڅکزی، محمد جعفر خان، وندر، (س ن) نېټه نۀ لري، مخ**4**، **5**، **6**.

(**5**) ایضاً، مخ**10**.

(**6**) ایضاً، مخ**11**.

(**7**) اتل، میر حسن خان، دا وګړي ډېر کړې خدایه، **2016**ء. مخ**161**.

(**8**) مندوخېل، عبد الرحیم، ټولواکي، **1959**ء، مخ**5**.

(**9**) مندوخېل، عبد الرحیم، ادب د ژوند تصویر او تفسیر دی او سیاست د ژوند هینداره، (س ن) پښتونخوا ادبي ګوند کوټه، مخونه **25** تا **27**.